مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی خُدران ۲۰۲۴/۰۱/۱۷

ولې سویلي افریقا د نړیوال عدالت محکمه کې اسرائیل په نسل وژنه تورن کړ؟

په اسرائیلو تر ټولو تورونو دروند تور:
د نړیوالې ټولنې تر ټولو لوړه عالي ستره محکمه یا د نړیوال عدالت محکمه کې دا ډول تورونه راپورته کول، چې تقریباً د انسان ټول د تصور وړ خیالونه لمنځه وړي. د لومړی ځل لپاره اسرائیل د فلسطین په وړاندې د خپلو ناوړو ظالمانه جګړیزو سیاستونو په اړه د نړیوال عدالت محکمې کې د ځواب ویلو لپاره حاضر شو. دا کومه تصادفي پېښه هم نه ده، چې د فلسطین حقوقي قضیه په نړیوال عدالت کې د سویلي افریقا له لوري سر راپورته کړ. تور دا دی، چې اسرائیل د غزې په ټرانګه کې د خپلو شدیدو او بې تناسیبو پوځي عملیاتو او متشددو اقداماتو په ترڅ کې د ,, نسل وژنې په عمل,, لاس پورې کړي او مجرم دی. له دې سره د ملګرو ملتونو د نسل وژنې له کنوانسیون څخه سرغړونه کړې ده. د غزې خونړۍ جګړې د ملګرو ملتونو لوړ پوړي قاضیان هم اندیښمن کړي. ځکه اسرائیل په توکموژنه باندې تورن شوی دی. ښایي د دې تورونو ثبوتول لږ ستونزمن وي، خو په لوړه کچه دغه چاوېدونکي حقوقي قضیه د اسرائیلو لپاره یوه خطرناکه قضیه ګڼل کیږي. په ځانګړي توګه اسرائیل په ډنهاک کې د نړیوال عدالت محکمه کې په نسل وژنې تورن شوی. دا هغه یهودي دولت دی، چې په جرمني کې د نازیانو د هولوکاست یا د یهودیانو نسل وژنې په پایله کې تاسیس شو. دا د نړۍ په محاصر تاریخ کې تر ټولو یوه ناوړه زړه بوګنونکي نسل وژنه وه. اوس اسرائیل خپله په نسل وژنې باندې تورن شوی دی. فلسطینیانو میلیونونو یهودیانو ته په خپله خاوره کې پناه ورکړه. اوس هلته یهودیانو د فلسطینیانو نسل وژنې باندې پیل کړي. سویلي افریقا د عدالت په نړیواله محکمه کې اسرائیل په غزه کې د ثبوتونو سره په نسل وژنې تورن کړ. په نړیوال عدالت کې دواړه مدعیان کیدای ښې په یوه ټکي کې بریا ترلاسه کړي. اسرائیل باید په ډنهاک کې د نړیوال عدالت محکمې ته د غزې جګړې د برید په اړه ځواب ووایي. د اسرائیلي پوځیانو بریدونو د لاسه د غزې په جګړه کې هیڅوک خوندي او په امن کې نه دي. حتی دوی نوي زیږیدلي شوي ماشومان یې وژلي، د غزې په ټرانګه کې اوس د وژل شویو ماشومانو هدیرې شتون لري. د بیلګې په ډول د یورو مډیټراني د بشري حقونو څار ټولنې د شمېرو له مخې د اکتوبر له اوومې نېټه راهیسې په غزه کې شاخوا د غزې ځلورمه سلنه نفوس د 90000 څخه ډیر فلسطینیان د اسرائیلو په بریدونو کې وژلي شوي، ټپیان شوي او یا ترې تم شوي دي، چې ډیرۍ په کې ښځې او ماشومان دي. داسي انګیرل کیږي، چې دا شمېرې د پاموړ لوړې دي، ځکه ډیرۍ خلک لا د ویجاړو شویو ودانیو او تر خاورو لاندې ښخ پاتې شوي یا ورک دي. په غزه کې هیڅ چیرې یو خوندي ځای نشته، هر ځای او هر خوځیدونکی شی په بېرحمې سره ویشتل کیږي. اسرائیلي پوځیانو د غزې ټرانګه یا سر خلاصې زندان یې له خاورو سره خاروي کړي. د نړیوال عدالت ځارنوالان اسرائیل تورنوي، چې د ملګرو ملتونو د نسل وژنې کنوانسیون له بېلابېلو مادو څخه سرغړونه کړي ده. اوس اسرائیل مجبور دی، په نړیواله محکمه کې دې کلکو تورونو ته ځواب وموميِ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که څه هم د دغې حقوقي قضيه اوريدنه يا بيانول په نړيواله محکمه څه باندې شپږو ساعتونو پورې دوام وکړ، خو د سويلي افريقا له خوا د اسرائيلو پر وړاندې د عدالت په نړيواله محکمه کې د نسل وژنې قضيه د لسيزو اوږد کلونو راهيسې ژورې تاريخي ريښې لري. دا قضيه په لومړی سر کې پر غزې د اسرائيلو د بريد په اړه ده، خو په ريښتيايني مانا سره په منځ زړې کې د يوې لوې ژورې مسئلې سره تړاو لري. د څو اوونيو راهيسې د اروپا په ښارونو او سړکونو کې په غزا کې د خونړيو پيښو اړوند قهريدلي او په سخته غوسه کې د لاريونوالو لاريونونو څپې روانې تيرږي. خو بيا هم دغه قهريدلي غوسناکو احتجاجونه د اروپايي حکومتونو لخوا کوم چې ځانونه د بشري حقونو مدعيان بولي قصداً له پامه غورځول کيږي، خلک تېرنه منع کيږي، تحقير، توهين کيږي او ان تعقيب کيږي.
د عدالت نړيواله محکمه د ملګرو ملتونو يوه تر ټولو ستره عالي محکمه ده. د نړيوال عدالت محکمه بايد د جرمونو نړيوالي محکمې سره چې هغه هم د هالينډ په ډنهاګ ښار کې موقعيت لري، توپير لري. د جرمونو نړيواله محکمه د 2005 کال راهيسې د انفرادي تورونو او جرمونو سره معامله کوي يا سرو کار لري. په داسي حال کې چې د ملګرو ملتونو د نړيوال عدالت محکمه د 1945 کال راهيسې د دولتونو ترمنځ د خپل منځي شخړو او کړکيچونو په اړه پرېکړې کوي. د نړيوال عدالت محکمې ته هم اسرائيل او هم سويلي افريقا اجازه لري، څو د محکمې 15 دايمي قاضيانو سربيره هر هيواد يو خپل قاضي وړاستوي. د سويلي افريقا استازيتوب 76 کلن قاضي ډيکګنګ ارنسټ موسينيک لخوا کيږي. نوموړي د خپل هيواد د ستري محکمې پخواني قاضي دی. د سويلي افريقا حقوقي پلاوي مشري د عدليې وزير ښاغلی رونالډ لامولا کوي. اسرائيل خپل قاضي د ستري محکمې پخوانی 87 کلن قاضي هارون بارک ورليږلي دی، نوموړی په جرمني کې د هولوکاسټ څخه ژوندی پاتې شوي دی.
د سويلي افريقا د نړيوالو حقوقو نوموتي تکړه مدافع وکيلانو دا قضيه داسي وړاندې کړې، د جرم عمل اثباتيه مدارک او د جرمي عمل دليلونو په بنسټ پر اسرائيل شديد تورونه پورې کړي دي، چې اسرائيل په غزه کې د فلسطينيانو نسل وژنه ترسره کړي. همداراز سويلي افريقا د عدالت نړيوالي محکمې څخه غوښتنه کوي، چې اسرائيل ته په غزه کې د سمدلاسه پوځي عملياتو ودرولو امر صادر کړي. سويلي افريقا د نړيوال عدالت محکمې ته دغه قضيه وړاندې کړې او په اسرائيلو يې تور پورې کړي، چې غزه کې قصداً توکمېزه ډلوژنې ترسره کوي. د سويلي افريقا د عدليې وزير رونالډ لامولا وويل، چې په يوه هيواد باندې هر ډول سخت بريد د نسل وژنې له کنوانسيون د سرغړونې لپاره هيڅ ډول توجيه نه شي ګرځيدلي.
پوښتنه دا ده، چې ولې د جنوبي افريقا دولت د غزې په جګړه کې د اسرائيلي دولت په وړاندې دومره سرسخت مخالف ښکاره کړی دی. ولې سويلی افريقا د اسرائيلي دولت څخه دومره ډير نفرت لري. د عدالت نړيوالي محکمې ته د نسل وژنې دا شکايتليک د لسيزو پخوانيو پيښو سره تړاو لري، چې دا خونړۍ پيښې لا تر اوسه هم نه دي بښلي شوي.
په 1948 کال د مې په مياشت کې کله چې اسرائيل دولت وزيرېدو، د جنوبي افريقا هيواد يو له هغو لومړنيو هيوادونو څخه و، چې نوی يهودي دولت يې په رسميت وپيژند. خو اوس له نږدې 76 کلونو ورسته د جنوبي افريقا او د اسرائيلو ترمنځ اړيکې تر ټولو وختونو ورستۍ حد ته ټيټې شوي يا رسيدلي دي. سويلي افريقا له اسرائيلو خپل ډيپلوماټان ايستلي دي. د نوامبر په مياشت کې د سويلي افريقا پارلمان رائيه ورکړه، چې په پريتوريا کې د اسرائيلو سفارت بايد وتړل شي، تر څو چې اسرائيل په غزه کې جګړه پای ته نه وي رسولي.
د يهودي دولت جګړې د سيمې په هيوادونو او د خلکو په فکرونو کې د بدلون لامل ګرځيدلي. دا ټول په 1967 کال کې د شپږ ورځينۍ جګړې سره پيل شول، کله چې اسرائيل د غزې ټرانګه، لويديځه غاړه او ختيځ بيت المقدس تر خپل کنټرول لاندې راوستل. په 1973 کال کې د يومکيپور جنګ هم د دې لامل شو، چې اسرائيل د يو اشغالګر ځواک په توګه وګڼل شي. دا د افريقايي هيوادونو لپاره کوم چې دوی د اوږدې مودې استعماري ماضي يا د اپارټايد تاريخ لري يو ډير دردونکی عمل او ټکی دی. له همدې امله ډيرو افريقايي هيوادونو د اسرائيلو سره خپلې ډيپلوماتيکي اړيکي پرې کړي دي.
وسمهال د هالينډ په ډنهاک کې د اسرائيلو په وړاندې په غزه کې د فلسطينيانو د نسل وژنې قضيې محاکمه کې د سختو تورونو اوريدل پيل شوي دي. د سويلي افريقا جمهوريت د تيرې پنجشنبې په ورځ د اسرائيلو په وړاندې د نسل وژنې د قضيې د اوريدنې په پيل کې د عدالت نړيوالې محکمې ته د خپلو تورونو په اړه خپل ثبوتونه او دلايل وړاندې کړل.
په دغه 84 مخيزه سند کې راغلي چې د اسرائيلو موخه دا ده، د 2023 کال د اکتوبر په اوومه نېټه د جګړې له پيل راهيسې د اسرائيلو اقدامات د غزې په ټرانګه کې قصداً د فلسطيني ملي، نژادي او توکميزه وژنې د پامونړ دي او موخه يې د فلسطيني وګړو په يو مخېزه توګه له منځه وړل دي.
د سويلي افريقا تورونه په يوه بشپړ جامع مستند حقوقي کره بيان کې وړاندې شوي. دا حقوقي دعوا يا قضيه په غزه کې د اسرائيلو وحشي جګړيزې کړنې په اړه په دقيقه توګه او په غور سره توضيحات وړاندې کړي. دغه مقدمه د ډېرو په زړه پورې مستندو دليلو او دريځونو سره په دريو برخو کې د يو مفصل راپور په څير وړاندې شوي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په حقیقت کې دا د اسرائیلي سیاسي مشرانو ټکان ورکونکي او له شرمه ډکي ځرګندوني، چې په ډیر دقت سره د قضیې په راپور کې مستندې وړاندې شوې دي. د اسرائیلي مشرانو کټ مټ د نازي جرمني مشرانو خبرې او چلند د فلسطینیانو په وړاندې کارولې دي. په لنده توګه دغه حقوقي قضیه روښانوي، چې هغه څه چې اسرائیلیانو د اکتوبر له اوومې نیټې راهیسې په غزه کې ترسره کړي دي، د هغه څخه یوه خورا وړه نمونوي دردونکي نسخه ترینه را لیکل شوې ده، چې دوی د اکتوبر له اوومې نیټې څخه د مخه د فلسطینیانو سره هم ورته چلند کړي دی.
د سویلي افریقا پلاوي کې د سویلي افریقې عدلیې وزیر ښاغلی رونالډ لامولا هم شامل دی. دوی دغه نسل وژنې د یوه ثابت شوي جرم یا انجام شوي عمل په توګه ګوري. د شواهدو په توګه یا د ترسره شوي جرم ثبوت لپاره د اسرائیلي وزیرانو، د اسرائیلو وسله وال پوځ مشرانو او د کنېسټ یا د ولسي جرګې غړو نقل قولونه یا بیانونه د نړیوال عدالت محکمه کې وړاندې کړي دي. په دغه بیانونو کې په وار وار د غزې د ،، له منځ وړلو,, سوځولو,, له خاور سره خاورې کولو غږونه او خبرې وړاندې شوي دي. دوی وایي. چې هلته په غزه کې اصلاً بیګناه خلک شتون نه لري. ورستۍ بیانونه په پارلمان کې د لیکوډ ګوند غړی نسیم واتوري لخوا ویل شوي دي. د دې تورونو راوچتلو مخکې پر نړیوال کچ احتجاجي لاریونونه ترسره شوي. په څو بیانونو کې البته دا متنازع خبره یاده شوي ده، چې ایا دغه اصطلاحات لکه ,, انساني بلاوې یا انساني حیوانات,, یوازې حماس جنګیالی ته کارول شوي یا په عمومي توګه د غزې ټرانګي اوسیدونکو ته اشاره کوي.
د سویلي افریقا له نظره دا یوازې د غزې په ټرانګه کې د بشري ناورین وضعیت نه دی، چې د اسرائیلي صیهونیستي رژیم د ستراتېجي یوه برخه ده، بلکې په 1948 کال کې د یهودي دولت د تاسیس راهیسې، دا دولت د نسل وژنې په اراده کې عمل کوي، تر څو فلسطیني وګړي د خپل توکمپالنې سیستم تابع وګرځوي. کله چې دا تورونه په لومړي ځل د پنجشنبې په ګهیځ نړیواله محکمه کې بیان شول او واوریدل شول، د اوریدنې له پیل څخه لږ شیبه ورسته د محکمې مخې ته د فلسطین پلوه لاریونوالو له لورې په لوړ غږ او له احساساتي ډکو جزبوسره یو حیرانونکي غبرګون وښودل شو. په ټولیزه توګه شاخوا 1500 تنو د فلسطین بیرغونو سره د محکمې مخې ته راټول شوي وو. په یوه بینر کې د نیلسن منډیلا انځور سره لیکلي شوي و،، موږ ټول ښه پوهیږو، چې زموږ خپلواکي د فلسطین له ازادۍ پرته نیګړي ده,,.
دا حقیقت چې ولې د اسرائیلو د نسل وژنې تورونو قضیه یوازې او یوازې له سویلي افریقا څخه راپورته کړي، د نورو شیانو په منځ کې د نژادي تبعیض ضد او د فلسطیني ازادۍ غوښتونکي غورځنګونو سره د اړیکې درلودلو پورې هم اړه لري. د غزې جګړې پر ضد د لاریونونو روانې څپې دا هم ثابته کړه، چې تیره پنجشنبه په ډنهاګ کې یوه ځانګړې ورځ وه. د هالینډ ډنهاګ ښار د نړیوالو قوانینو پلازمینې یادیږي، په دې ښار کې د اروپا پښتون ژغورنې غورځنګ غړو هم د پاکستاني ظالمو رژیمونو په وړاندې د پښتنو نسل وژنې په وړاندې په لوڅو پښو لانګ مارچ او لاریونونه ترسره کړي دي. د پنجشنبې په ورځ د لمر ختو سره سم خلکو د فلسطیني بیرغونو سره د محکمې په لور لاریون پیل کړل او شعارونه ورکول، چې,, له سینده تر سمندره پورې فلسطین به ازادیږي,, Form the river to the sea; Palestine will be fee دا شعار کټ مټ د پی ټی ایم شعار سره ورته والي لري، له امو تر اباسینه یوه خاوره یوه وینه. د فلسطینانو په وړاندې د اسرائیلي فاشیستي رژیم سیاستونه کټ مټ لکه د پښتنو اسرائیل پاکستان یا د پنجابي فاشیستي رژیمونو د پښتنو بلوڅو نسل وژنې چلند سره په ډیرو برخو کې ورتوالي لري، چې دغه موضوع دلته په لیکنه کې نه څیړل کیږي.

سویلي افریقا په اسرائیلو باندې کوم تورونه لګولي دي.؟

په دغه 84 مخیزه مقدمه کې جنوبي افریقا د غزې په ټرانګه کې د فلسطینیانو په وړاندې د اسرائیلي پوځي بریدونه او له تاوتریخوالی ډک جرمونه د نسل وژنې په نیت او کرکټر کې توصیف شوي دی. اسرائیل فلسطینیان قصداً وژنې،,, دوی ته یې سخت ذهني او فزیکی زیانونه رسولي دي او اسرائیل د ژوند داسې شرایط ورته رامنځته کوي، چې موخه یې د فلسطینیانو فزیکي ویجاړول دي,,. اسرائیلي هوایي بمبارۍ، جبري ټېښتونې، په روغتونونو، کلینیکونو، زیرزمینو بریدونه او ټوله سیمه کلابندول، څو د خوراک او ځښاک اوبو د کمښت لامل شي. د اسرائیلو دفاع وزیر ویلي، پر فلسطینیانو اوبه، بریښنا، خوراکي توکي، تیل هر څه پرې بند شوي دي. موږ د انساني حیواناتو سره مخامخ یو، دې ته ورته چلند ورسره کوو.
د چارواکو په وینا، غزه چې د اسلامي حماس تر کنټرول لاندې ده، په کې د قربانیانو شمېر اوس له 23 000 څخه اوښتی دی او لسګونه زره نور ټپیان شوي دي. همدارنګه د اسرائیلو د وزیرانو ځرګندوني هم د نسل وژنې کرکټر یا ارادې د ثبوتولو په توګه په کې بیان راغلي دي. د اسرائیلو دفاع وزیر جوف ګالیټ ،، د انساني څارویو,, په اړه خبرې کړي دي او اعلان کړي،,, موږ به هر څه له منځه یوسو,, موږ به هر څه له منځه یوسو، که دا یوه ورځ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ونيسي، كه دا يوه اوونۍ وخت ونيسي. كه دا اوونۍ يا حتى مياشتي مياشتي وخت ونيسي، مور به ټولو ځايونو ته ورځو او ځانونه به وروړسو,,. د اسرائيلو دفاع وزير جوف ګالينټ وينا ده.

د محكمي دايريدو قانوني بنسټ په څه شي باندې ولاړ دی

د دې حقوقي قضيې اساس د 1948 کال د نسل وژنې په اړه د ملګرو ملتونو د کنوانسيون دی، چې په 1951 کال کې نافذ شوې دی. د نړيوال قانون په دويم ارټيکال کې دغه جرمي عمل داسې بيان شوې، کله چې عمداً او قصداً د يوې ټوکميزې ډلې ازارول، تعقيبول، کوم چې د مذهب، ژبې او دودونو له مخې له نورو سره توپير ولري. ترسره شي. دا کنوانسيون د دويمې نړيوالې جګړې په جريان کې د نازي جرمني لخوا د هولوکاسټ پېښې ته مستقيماً ځواب وايي. د قربانيانو شمېر د محکمې په ارزونه کې هيڅ رول نه لوبوي. مهمه دا ده، چې ايا د جرم مرتکبين د خلکو يوه ځانګړې ډله په بشپړ ټوګه يا په يوه برخه کې له منځه وړي وي يا يوسي.

دلته دا پوښتنه راولاړيږي، چې د غزې په جګړه کې د اسرائيلو کړنو د سويلي افريقا حقونه تر کوم حده تر پښولاندې کړي يا سويلي افريقا ته يې څه تاوان او ضرر رسيدلی دی. سويلی افريقا ويلي، چې د ملګرو ملتونو کنوانسيون تهداتو ته ژمنه ده او عمل پرې کوي، څو په نړۍ کې عدالت پلي شي. دا په دې مانا ده، چې د نسل وژنې کنوانسيون څخه سرغړونه نه يوازې اغېزمن شوې، بلکې د نړيوالې ټولنې ټولو غړو ته زيان رسوي، چې دا خبره سويلي افريقا پورې هم اړه لري. د سويلي افريقا دغه عالي وجداني دريځ د ستاينې وړ دی او يوه سخته ځپېړه د لويديځو هيوادونو د حکومتونو سياستوالو پر مخ ده، کومو چې دغه کنوانسيون لاسليک کړی دی. لويديځ سياستوال په ډيره سپين سترګي سره په ښکاره توګه پر اوکرايين باندې د روسيې برید غندي، خو د اسرائيلو غير متناسب يرغلېزه برید په وړاندې غلي پاتې دي.

د محاکمې يا قضيې په بنسټ کې څه شي دي.؟

سويلي افريقا د ملګرو ملتونو د نسل وژنې کنوانسيون پلي کولو غوښتنه کوي. دواړو هيوادونو دا کنوانسيون لاسليک کړي، دوی نه يوازې ژمنه کړې، چې د نسل وژنې څخه به ډډه کوي، بلکې د دې ډول ناوړو کړنو مخنيوي به هم کوي او مجازات کوي. د ملګرو ملتونو کنوانسيون کې نسل وژنه د يو داسې عمل په توګه تعريف شوې، چې,, قصداً د يوې ټوکمې يا نژادي يا مذهبي ډلې ټوله يا يوه برخه د ويجاړولو په نيت له منځه وړل کيږي,,. د دې تعريف او تورونو له مخې اسرائيل په بنسټيز ډول په خپل زړه کې اغېزمن ويشتل شوی دی. دغه يهودي دولت د دويمې نړيوالې جګړې ورسته د جرمني نازيانو لخوا د يهوديانو د نسل وژنې په پايله کې تاسيس شوې دی.

د حقوقي قضيې په اړه د اسرائيلو غبرګون څه شی دی.؟

اسرائيل دا تورونه په کلکه ردوي او د اکتوبر د اوومې ورسته پر حماس بريدونه د ځان د دفاع حق يې بللي,,.

د قضيې په اوريدنه کې څه پېښيدلې شي.؟

لومړی سويلي افريقا د تېرې پنجشنبې په ورځ خپل شکايت تشريح او وړاندې کړ. د تيرې جمعې په ورځ اسرائيلو ته د ځوابو ويلو فرصت او وخت ورکړل شو. دا اوريدنه په پيل کې د سويلي افريقا له لوري په يوه بيرنۍ غوښتنليک باندې تمرکز لري. د نړيوال عدالت محکمې څخه د اسرائيلو د پوځي بريدونو او تاوتريخوالي د سمدستي پای ته رسولو او د فلسطينيانو د حقونو خوندیتوب غوښتنه يې کړې ده.

دا په دې مانا چې د ملګرو ملتونو قاضيان مجبور نه دي، چې اوس دا مالومه کړي، چې واقعآ په غزه کې نسل وژنه ترسره شوې ده يا نه، بلکې دا کفايت کوي، چې وويل شي، د ملګرو ملتونو له کنوانسيون څخه سرغړونه شوې ده.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کله د يوې نړيوالې پرېکړې تمه کيدای شي.؟

د نړيوال عدالت قاضيان به په ځو اوونيو کې د بيړني غوښتنليک په اړه پرېکړه وکړي. هره پرېکړه يې الزمي ده، خو محکمه د پلي کولو واک او اختيار نه لري. پر اسرائيلو به نړيوال فشارونه زيات شي او يوه منفي پرېکړه به دغې ظالم يهودی هيواد حيثيت او شهرت ته سخته صدمه ورسوي.

د نسل وژنې اصلي مقدمې په اړه کله پرېکړه کيږي.؟

په نړيوال عدالت کې دا ډول قضيې او قضايی پروسې تجربو ته په کتو سره کيدای شي کلونه کلونه وخت ونيسي.
ولې د ټولو عربي اسلامي او غير اسلامي هيوادونو په سر کې سويلي افريقا نړيوالې محکمې ته د شکايت عريضه وړاندې کړه. د 1948 کلونو راهيسې شاخوا 150 هيوادونود نسل وژنې کنوانسيون لاسليک کړي دی. د نسل وژنې کنوانسيون هر لاسليک کونکي دولت کولې شي، دا ډول قضيه په نړيواله محکمه کې ثبت کړي. يوه خبره بايد جوته وليکل شي، چې سويلي افريقا په نړۍ کې واقعآ يوازينې هيواد دی، چې د فلسطينيانو د حقونو څخه پر نړيوال کچ په کلکه ملاتړ کړي، په يوه منطقي او حقوقي بڼه کې ترينه دفاع کوي. دغه هيواد وجداناً د خپل توکمپالنې اپارتايد تير تاريخ د بيلګې په توګه د سپين پوستو لږکيو حکومت لخوا د توکمپالو ظلمونه، د فلسطينيانو سره د اسرائيليانو د ظلمه ډک چلندونه پرتله کوي. اسرائيل هم په خپله د يوې اوږدې مودې لپاره د سويلي افريقا پخواني توکمپال رسيستي اپارتايد رژيم څخه ملاتړ کړي دی. د جنوبي افريقا د واکمن ګوند (ANC) د نېلسن مندلا د ګوند استازی هم دا خبره يو ځل بيا په ګوته کړي ده.
د سويلي افريقا حکومت دغه حقوقي قضيه نه يوازې د عدالت نړيوالې محکمې ته، بلکې د جرمونو نړيوالې محکمې (ICC) ته هم وړاندې کړې، چې په غزه کې د اسرائيلو احتمالي جنګي جرمونه وڅيړي او د اسرائيلو لومړي وزير بنيامين نتنياهو په وړاندې د نسل وژنې يو مجرم په توګه د نيولو امر يې صادر کړي.
سويلي افريقا ادعا کړې، چې د اسرائيلي وسله والو ځواکونو کړنې,, په خپل ډول کې د نسل وژنې يا جينوسايد کرکټر لري,, سويلي افريقا په خپله د حقوقي دعوا کې د ملګرو ملتونو د نسل وژنې کنوانسيون ته اشاره کوي، ځکه دواړو دولتونو سويلی افريقا او اسرائيل دا نړيوال کنوانسيونه لاسليک کړي دي.

ولې د سويلي افريقا حکومت نفرت د اسراييلو په وړاندې دومره ژور دی.؟

اسراييل بايد د عدالت نړيوالې محکمې ته په غزه کې د نسل وژنې د تورونو په وړاندې له ځانه دفاع وکړي. د مدعي سويلي افريقا سره د لسيزو راهيسې تاوتريخوالی شتون لري او د فلسطينيانو سره خورا ژوره خواخوږي شتون لري. دا خوا خوږي د سويلي افريقا اپارتايد وختونو سره تړاو لري.
د سويلي افريقا تکړه حقوقپوهانو خپل تورونه داسې وړاندې کړل، چې د حماس له بريدونو ورسته د اسرائيلو غبرګون د نسل وژنې بڼه خپله کړي ده. يوې وکيلې وويل، چې د غزې په ټرانګه کې د اسرائيلو بمبارۍ ,, د فلسطينيانو ژوند له منځه يووړل,, او د سيمې اوسيدونکې د لوږې کندې ته ټيل وهل شوي دي ,,. اسرائيل د حماس پر وړاندې د جګړې په ترڅ کې د غزې په ټرانګه کې د ملکي وګړو په سمبالښت کې پاتې راغلې.
سويلي افريقا د غزې په ټرانګه کې د 23 000 زياتو مړو لوړه شمېره، د خلکو د يوې لويې برخې اجباري شړل او بيځايه کول، په روغتونونو او زيزنتونونو باندې پوځي بريدونه او ملکي اهداف په نښه کول. همدارنګه د ښې اړخې افراطي حکومت په برخه کې د اسرائيلو د وزيرانو څرګندوني هم په قضيه کې د نسل وژنې ارادې درلودلو د ثبوت په توګه وړاندې شوې. جنوبي افريقا د اکتوبر په اوومه نېټه پر اسرائيلو د حماس لوی بريد غندلی دی.
په هر صورت دا د نسل وژنې کنوانسيون څخه د سرغړونې لپاره هيڅ ډول توجيې ونه لري. د اسرائيلو پوځ په دې ورستيو کې ويلي وو، چې د غزې په ټرانګه کې د حماس شاخوا اته زره جنګيالي وژلي دي، خو د دې شمېرو او مالوماتو کروالي په خپلواکه توګه نشي تائيد کيدلی. د دې اقامې دعوا په کړنلاره کې سويلي افريقا يو بيړنی غوښتنليک هم وړاندې کړي دی، چې په څو اوونيو کې د ننه پرېکړې کيدلي شي. خو د اصلي مسئلې په اړه د نسل وژنې تور ثبوتولو لپاره کلونه وخت نيسي.
اسرائيل له يوګوسلاويا، ميانمار او روسيې ورسته څلورم هيواد دی، چې د نړيوالې محکمې په وړاندې د نسل وژنې په اړه ځواب ورکوي. د عدالت نړيواله محکمه د ملګرو ملتونو مرکزي قضايي ارګان دی او هيوادونو ترمنځ د شخړو په اړه پرېکړې کوي او پرېکړې الزامي منل کيږي. په هر صورت د نړيوال عدالت محکمه خپله هيڅ شي په اختيار کې نه لري، تر څو د خپلو حکمونو پرېکړې پلي کړي. ځکه اجرائيوي بڼې يې جبري نه دي.
د سويلي افريقا په خپلو تورونو کې د حماس کړنې په کلکه غندلي شوي دي. زياتوي چې په ورته وخت کې د يو دولت په خاروه کې هيڅ وسله وال برېد نشي کولې د اسرائيلي دولت کړنې توجيه کړي. له همدې امله سويلي افريقا

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په نړیواله محکمه غږ کوي، چې سمدلاسه ,, موقتي اقدامات,, صادر کړي، تر څو اسرائیل زر تر زره خپل جګړې اقدامات ودروي او د نسل وژنې مخنیوي لپاره په خپل واک کې هر څه چې لري هغه دې وکاروي. اسرائیل د نسل وژنې تورونه رد وي او د خپل ځان د دفاع خپل حق بولي. دا چې د نړیوالې محکمې قاضیان به د اسرائیلو پلوي وکړي، دغې خبرې په اړه په اسرائیلو کې یو درز یا شک لیدل کیږي. جیرمي شارون په ټایمز اف اسرائیل اخبار کې خبر داری ورکوي، چې دا پروسه اسانه په اوږه مه اخلئ، یوازې د نسل وژنې قبلول او منل د دې بهیر د پیلیدو لپاره کافي دي.

په سیاسي حلقو کې دا هم ورو ورو روښانه کیږي او ویل کیږي، چې د عدالت په نړیواله محکمه کې د اسرائیلو دولت تورنول د حماس لپاره تر ټولو احتمالي بریا ده. لومړی وزیر بنیامین نتنیاهو د تیرې چهارشنبې په ماښام یو ځل بیا په ټینګار سره وویل، چې موږ د فلسطینیانو پر ضد اقدام نه کوو، بلکې یوازې د حماس پر ضد عمل کیږي. لومړي وزیر دا هم وویل، چې موږ په بشپړ ډول د نړیوالو قوانینو سره سم چلند کوو. په ډنهاک کې د سویلي افریقې تورونو ممکن بې بنیټیاهو دې دریځ ویلو ته هڅولي وي. لومړي وزیر په خپله اکسپانه کې لیکي، ,, زه غواړم په بشپړ ډول دا روښانه کړم، چې اسرائیل د تل لپاره د غزې اشغالو اراده نه لري ,, .

په نړیواله ډیپلوماتیکه کچه خبرې اترې له پخوا څخه پیل شوي دي. مدعي او تورن د خپلو دریځونو د پیاوړتیا لپاره د نړیوالو ملاتړ غوښتنه هم کړي ده. د نړیوال عدالت محکمې د 63 مادې له مخې د څو اړخیز ټرون هر اړخ کولې شي د ټرون د تفسیر په اړه په شخړه کې مداخله وکړي. جرمني هم دغه کنوانسیون لاسلیک کړي دی. همداوس نن د جرمني حکومت اعلان وکړ، چې د دریمګړي اړخ په توګه د عدالت په نړیواله محکمه کې د اسرائیلو خلاف د نسل وژنې په محاکمه کې ګډون وکړي. جرمني تر اوسه د غزې په پوځي قضیه کې بې پرې پاتې شوي نه دی. په داسې حال کې افریقا کې د جرمني پخوانۍ کولوني هیواد د نامیبیا حکومت د جرمني فدرالي حکومت په پریکړه باندې سختې نیوکې کړي دي. تر دې دمه بنګله دیش او اردون اعلان کړي، چې دوی غواړي د سویلي افریقا ملاتړ لپاره په دې پروسه کې ورشامل شي.

اسرائیل اوس په غزه کې خپل جنګي تاکتیکونه بدلوي. دا بدلونونه په ډنهاګ کې د نړیوال عدالت محکمې اغیز سره تراو لري. په ډنهاګ کې د نړیوال عدالت عالي محکمې قاضیان به د څو اوونیو په دننه کې پریکړه وکړي. یوازې په څو اوونیو کې به قاضیان پریکړه وکړي، چې ایا اسرائیل به دې ته اړ باسي یا کړي، څو محکمه د تورونو څیړلو په بهیر کې جګړه ودروي. خو په ډنهاګ کې د نړیوال عدالت عالي محکمه نه شي کولې، چې اسرائیل دې ته په زور اړ کړي، ځکه د دې لپاره یې وسایل لږ دي، خو پر نړیوال کچ سیاسي فشارونه پر اسرائیل لوړیږي. د نړیوالې محکمې پریکړې پلي کول د نړیوالې ټولنې دولتونو پورې هم اړه لري، څو د محکمې پریکړې تعقیب کړي او که اړتیا وي د پوځي زور له لارې پلي کړي.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ